بېشکه چې الله تعالى زما لپاره زما د امت تېروتنه، هېرېدل، او هغه څه چې دوی پرې مجبور کړل شوي، معاف کړي دي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «بېشکه چې الله تعالى زما لپاره زما د امت تېروتنه، هېرېدل، او هغه څه چې دوی پرې مجبور کړل شوي، معاف کړي دي».

[النووي وايي: حسن حديث دی] [ابن ماجه، البيهقي او نورو روايت]

نبي صلى الله عليه وسلم بيانوي چې: الله تعالى د هغه امت په دريو حالتونو کې بخښلی دی: لومړی: تېروتنه، دا هغه عمل دی چې له هغوی (امت) څخه بې له قصده صادر شي، يعنې يو مسلمان يو کار د يوه هدف لپاره ترسره کوي، خو د هغه عمل پايله بل څه راووځي له هغه څه نه چې ده غوښتل. دويم: هېرېدل، دا هغه حالت دی چې يو مسلمان يو څه په ياد لري، خو د عمل کولو پر مهال تر هېر شي، نو په داسې حالت کې پرې هېڅ ګناه نشته. درېيم: جبر يا زور، کېدای شي بنده مجبور شي داسې يو کار پرې په زوره وشي چې اصلاً يې نه غواړي، او د زور يا جبر د دفع کولو وس ونه لري، نو په داسې حالت کې پرې ګناه نشته او نه ورته کومه سختي (حرج) ورپېښېږي. خو دا په ياد لرل په کار دي چې د حديث موضوع د بنده او د هغه د رب ترمنځ ده، کله چې دی ناروا عمل تر سره کوي، او په کوم عمل چې ورته امر شوی نو په هېرېدو سره ترې نه ساقطېږي خو: که د عمل له امله يې د نورو خلکو حق ضايع شي، نو د هغوی حق نه ساقطېږي لکه: څوک چې يو انسان په خطا ووژني، نو ديت پرې واجب دی، يا يې د يو چا موټر په تېروتنه خراب کړ، نو تاوان به يې پرې کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4216